عبدالحی حبیبی
۲۰۱۷/۰۲/۲۰

# پښتو چيري بيايو؟

# ګښته که پورته؟

دغه دوې پوښتني چي ښاغلي ويونکي ووينې، ليري نه ده چي د دوي فکر ځانته راکش کړي او يو ګړی د دغو پوښتنو پر ځوابو هم غور وکړی.

دلمړی پوښتني په ځواب کښي به ښايي چي ټول خلك دا راته ووايي چي: "پورته"

ځکه چي او له ښه مرغه ټول هموطنان د پښتو په ښېګښو پسي دي، او لکه حکومت چي د پښتو لوړتوب غواړي، دغسي هم دملت افراد که پښتو ژبي او پارسو ژبي دي اوس دخپلي ملي ژبي ښې غواړي، او هرکله ئي دغه زيار دی، چي دا ژبه په ښکليو ګڼپو آغليه سي او ښکلا ئي را زياته سي چي د ملت ټول عصري او علمي او ادبي ښېګڼي تامين کړي. رښتيا خو داده چي يوه ژبه تر هغو نه ژبه کيږي څو کتابونه ونه لري، علمي ذخاير ونه لري ، مترقي ادب ونه لري، د هر راز علمي مضمون د اداء کولو دپاره بياني او ادبي استعداد ونه لري.

دا ټوله لوازم چي يوه ژبه حقيقتاً ژبه کوي هري ژبي ته د ژبي والي دپاره په کار دي، او که دغه استعداد يوه ژبه ونه لري، نو هغه ژبه ددي وړ نه وي چي د ژونديو او علمي ژبو په ډله کښي ودريږي ! پښتو ژبه که اصلاً خپل استعداد لري که ئي نه لري، که دا ژبه له پخوا څخه غليچه او غښتلي ده که نه ده، خو اوس ئي موږ غواړو او قوي کوو ئي.

نو چي مو مخي ته د ژبي د ارتقاء دپاره دغسي ګران مراحل سته، او ملاوي مو تړلي دي چي په زيار او مښود دغه منازل په پی کړو، خو دا طبيعي خبره ده چي د ټولو هيله داده چي پښتو لوړه ولاړه سي، نه ګښته! جګه سي، نه ټيټه! نه رنځوره! ګلکه او کروړه سي نه سسته پُسته!

مګر دا خبره هم د څېړني او پوښتني وړ ده چي آيا ژبه څوك لوړي درجي ته رسوي؟ آيا څوك په دي لار کښي خدمت کوي؟ او څوك دي چي دوي د ژبي جوړوونکی يا ورانوونکی ګڼل کيږي؟

ددغو پوښتنو په ځواب کښي به هم ښايي خلك دا ووايي چي ژبه د ملت مال دی ملت ئي جوړوي، او ملت ئي ساتي او ملت ئي لوړوي.

زه هم ددي خبري پر خوايم په رښتيا هم ژبه د ملت دپاره ده او هر اولس دخپلو احتياجاتو دپاره ځانته ژبه جوړوي، او هر څوني چي ئي اړتيا وي ديريږي، هغوني خپلي ژبي ته هم ارت والی ورکوي، نو ژبه د مدنيت



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و يا spineghar@gmail.com

او احتیاجه سره یو ځاي پر مخ ځي او یوځاي ورسره مري .مګر دملت په منځ کښي ځیني داسي طبقات سته چي دوي د ژبي سره تر نورو ډېره او ټینګه اړه لري، او دغه طبقات هم ادباء ، شعراء، لیکونکی او خطباء دي چي دا ټول تر یوه عنوان لاند جم کیږي، او دوي ته ژبوران وایو.

شاعر ژبور دی، ځکه چي دده شعر د ژبي غوره اساس دی، لیکونکی ژبور دی، ځکه چي دده لیك د ژبي د ناموس ساتندوی دی، خطي ژبور دی، ځکه د ده وینا عین ژبه ده!

ژبور ژبه جوړوي، ژبه سموي، ژبه لوړوي، هره ژبه چي ډېر ژبوران ولري، هغه ژبه په رښتیا ژبه وي، او په ژبه والی، کښي د نورو سره سیالی کولاي سي.

## ژبور او وګړي:

لکه لوړ چي مي وویل : ژبه د وګړیو مال ده، هر وخت وګړي ځانته یوه ژبه لري، د وګړیو ژوندون او حیات، عواید او اړتیاوي ژبي ته تطور ورکوي، ژبه نوې کوي، ژبه ارتوي.

تر څوچي د وګړیو د ژوندانه سویه جګه نه سي او دژبي ارتوالي ته یو عمومي احتیاج حس نه سي، په ژبه کښي نوي عناصر نه ګډیږي او نه ارتیږي.

د مثال په ډول : څلویښت کاله دمخه مو طیاره نه وه لیدلي، نو ددې شي دپاره دیوه نوم ضرورت نه و، چي یو الوتونکی شی مو ولید، اوعام سو نو ئي نامه ته اړ سوو، او وګړیو وغوښته چي نوم پر کښیږدي. نه پوهیږم چي طیاره چا وبلله، او څنګه دا نوم عام سو، خو اوس د اروپایي ایروپلان دپاره طیاره یو عمومي نوم دی .او دا نوم هم ضرورت او اړتیا ایجاد کړیدی .که څه هم وروسته په پښتو کښي د طیارې سره الوتکه هم ضمیمه سوه خو طیارې داسي غلبه کړې وه، چي الوتکه لا تر اوسه نه ده پر غالبه سوې. دا ولي؟ یو لغت او کلمه چي یو وار د وګړیو خولوته ورسېده او د تداول ډګر ته راغله هغه کلمه د وګړیو ذوق مني، بیا ئې ایستل او پرېښوول ډېر ګران کار دی.

له دې خبري څخه تاسي ته ښه ښکاره کیږي چي که ژبور د ژبي روزونکی او لوړونکی دي، خو وګړي هم د ژبي څخه لیري نه دي، او ژبه د وګړیو دپاره ده . هر وخت ژبه د وګړیو په لاس کښي ده، د خپلو احتیاجاتو سره ئې برابروي نوي تعابیر، نوي لغات او کلمات پکښي پیداکوي، او عاموي ئې.

مګر دغه د وګړو ژبه جوړول، تل تر یوه علمي اساس یا ادبي او ذوقي اصولو نه وي لاندي، عوام خو عامیانه کار کوي، وګړي د وګړیو په څېر د خپلو اړتیاوو د پوره کولو دپاره ژبه ارتوي، مګر دوي هیڅکله د ژبي د ښېګړې او لوړتیا په غم کښي نه دي، ډېر ځله ناوړه او غیر نافع مواد هم ژبي ته راوړي . ددې دپاره چي د وګړیو غیر ذوقي او بې اساس تصرفات له ژبي څخه کم سي او ژبه د وګړیو مبتذل او غیر اساسي ذوق ملعبه نه سي نو ژبي ته ژبور په کار دي.

هوکی! د ژبورو تل د ژبي واګي په لاس کښي وي، اونه ئې پرېږدي چي پر هره خوا ولاړه سي، او هغي خواته مخ کړي چي د ژبي ښه والی او ګټه نه وي پکښي.

په بل راز وایم، چي د ژبي بېړۍ هر کله د وګړیو او عوامو دجریان سره تلونکې ده، ددې جریان اصلي مقصد او هدف هم غالباً نه وي معلوم، خو فقط ځي او حرکت کوي، مګر ژبور د ژبي د بېړۍ ماڼو او بېړۍ چلوونکی دی، چي د کښتۍ واګي ئې په لاس کښي وي، له حرکته څخه ئې کار اخلي، او دا بېړۍ پر داسي خوا بیایي چي

هلته مقصد اوغایه وي نه ئي پرېږدي چي د ژبي بېړی د طوفان گرداب ته ولوېږي یاد خطر او ضرر په څپو کښي لاهو اوټوکړی ټوکړی سي . نو له دي مقدمي څخه دا انتیجه اخیستلاي سو، چي د ژبي دپاره هم د عوامو او وګړیو قوه لازمه ده هم د ژبورو او ادیبانو او لیکونکو توجه!
که له دغو دوو قوو څخه یوه نه وي د ژبي طبیعي سیر او ارتقایي حرکت درېږي، او دسقوط خواته مخه کوي.

## د ژبورو دندي:

لکه چي ومي ویل : ژبور د ژبي دبېړی مانو ګان او چلوونکي دي د ژبي په ارتقایي سیر کښي خو وګړي او عوام دوني مسئولیت نه لري، لکه ژبوران چي ئي لري.
ژبور د ژبي د ښېګړو، د ژبي د ادبي لوړتیا، د ژبي د علمي ذخایرو مسئول دي، عوام خو په دي لار کښي فقط له حرکي پلوه څه نه کولاي سي مګر د اساس د ټینګار او د بنسټ د ایښوولو او استحکام دپاره خو څه سي کولاي.
ژبوران هرکله دژبي د ارتقایي سیر لاري سنجوي، وسایل تهیه کوي، اود وګړیو په لاس ئي ورکوي، چي وګړي هغه وچلوي، او د ژبي دپاره د ژبورو په لارښوونه او هدایت حرکت کوي.
نو ګویا د ژبي اصلي جوړونکي او بیا روزونکي او پالونکي همدغه ژبوران او ادباء او لیکونکي دی . ژبور باید د ژبي دپاره هسي اساس کښېږدي، او هسي ټینګه سټه ورته وضع کړي چي هغه د ژبي دپاره مفیده وي، او د ژبي اساسي عناصر په خوندي سي، او د ادبي او علمي ښېګړو ور تل پر ژبه را خلاص کړی . ژبور باید تل د وګړیو ذوق ته وګوري د عوامو محاوره او تکلم او اداء ئي تر نظر لاندي وي، سره ددې چي دعوا مو پر سویه او لار به نه ځي، خو بیا هم نه ښایي چي له هغو څخه غافل وي . مثلاً : که یو ژبور د پښتو نثر لیکي، باید چي دی پخپل نثر کښي، د ملت عامه محاوره اوخبري اتري هیري نه کړي، خو بیا هم نه سي کولاي چي د عوامو د محاورو هر وچ او لانده راواخلي، بلکي دی به زیار کاږي چي رکاکت او دمحاورې ناوړه شیان له لیکه وباسي، مګر دا به ئي په زړه کښي وي، چي د محاورې تر عمومي سطح لوړ نه سي او پر بله خوا ولاړ نه سي.

## اوسني ژبوران او پښتو:

دا خبري ټولي د مقدمي په ډول وې زما اصلي مقصد همدغه دی، چي اوس پیل په کوم. پښتو د ادب او لیك له پلوه که څه هم خورا زړه ژبه ده خوبیا اوس هم نوې راته ایسي. او موږ لکه چي نوې شروع په کوو.
په دي حال کښي لکه پښتو چي نوې او د ځینو په خیال ابتدائي ده نو ئي لیکونکي او ژبوران هم لږ دي، خو بیا هم دغه اوسني لیکونکي ددې ژبي په جوړولو اولوړتیا کښي غښتلي لاسونه لري، او هم دغه لیکونکي دي چي اوس د ژبي د بېړی مانو ګان ګڼل کیږي او دغه ژبوران او لیکوال دي چي آینده پښت ته د هدایت ډیوی بلوي، او د ژبي د" نوي ژوندون "لاري ورښئي.
دلته باید دا خبره هم وکړم چي ددې لیکونکي سعي او زیار مشکور او دستاینې وړ دی، مګر بیا هم نه ښائي چي دوي او موږ. خپل ټول کارونه ښه وبولو اود تنقید او څېړني پلټني لار وتړو.
زما په فکر خولیکوال او اوسني پوهان اوژبوران د ژبي سره ښه هم کوي، مګر کله کله د ښو په ترڅ کښي په غیر ارادي څېر ژبي ته ځیني تاوانونه هم رسوي، دوي خو دژبي مانوګان دي مګر ډیر مانوګان د ګټي او ښېګړي په خیال چي له آینده طوفانه او ګردابه بېرېږي، بېړی ودروي .دغه درېدنه خو بالذات ګټه وره یا بده

وي، مګر د ماښو عقیده خو بالکل ښېګړه او ګټه ده.
ډیر ځله داسي پیښیږي چي ماښو پخپل اجتهاد کښي تېر وزي اوبېږی خطر ته نژدې کړي، ښېږی هم ورانه او ځان هم په ګرداب کښي ورسره لاهو کړي.
د اوسنیو پښتو ژبورانو په مخ کښي هم دغسي هولناك مراحل سته نو ځکه زه مجبور سوم چي دوي دې خپل نازك موقف ته متوجه کړم او دا پوښتنه ځني وکړم چي آیا " ژبه چیري بایو؟ کښته که پورته؟"
ښاغلي لیکوال او ژبوران او ادباء دي ما وبخښي چي زه د دوي څخه د دې پوښتني جرأت کوم او دوي یوازي د ژبي لوړونکي نه بلکي کښته کوونکي هم ګڼم، ځکه چي زما د خبرو مخ ادباؤ او لیکوالو ته دی، نو باید په ډیر احتیاط پردې ډګر پښه کښېږدم او د تاریخ په دنیا کښي خپل مطلب دوي ته روڼ کړم.
ما وویل : چي یو لیکونکی او ژبور کولاي سي چي ژبي ته خدمت وکړي، مګر دا هم ورسره تړلې ده چي ژبي ته دي تاوان ورسوي، تروټه دې کړي.
د ژبي تاریخ ته وګورئ تر اوسه چي موږ ته ښکاره سوېده، دغه ژبه په خورا مشعشع او ځلانده ډول زر دوه سوه کاله دمخه ژوندۍ وه، اشعار او ادبیات ئې درلودل او هغه ادبیات هم دغسي مترقي او لوړ وه چي باید تر دغو دمخه ژبي یو زر کاله پخوا هم ادبي مراحل طي کړي وي.
نظم اوشعر به پرېږدو، نثر ته به راسو لومړی نثر چي د ژبي د لومړنیو وختو څخه زموږ په لاس کښي دی د سلیمان ماکو تذکره ده چي تر(۶۱۲ هـ) وروسته لیکل سوېده، ددې کتاب نثر خوږ، روان، سلیس له خونده ډك دی. یعني خورا ډېر دمحاورې له اوسنی سطحي څخه لیري نه دی، څلور سوه کاله وروسته چي بیا دپښتو ادبي آثار او د نثر نښي را پاته دي، خیرالبیان او د اخوند درویزه مخزن الاسلام او نور دي، دغو لیکوالو د لیکني یو نوی سبك جوړ کړیدی .چي په هغه وخت کښي به ښایي د دوي په ذوق ډیر خوږ ؤ، او د دوي به خوښ هم ؤ، مګر اوس چي ورته ګورو دا لیکونه نه نثر دي نه نظم او په اوسني ذوق بې خونده ښکاریږي، خو که دغو لیکونکو له ځانه دغه نوی سبك نه واي را ایستلی، او لکه سلیمان ماکو د ژبي د محاورې او وینا سره سم تللی واي، نو به دوي د ژبي هغه پخوانی سبك نه واي وران کړي، او آثار به ئې هم خواږه او تر ابده مقبول واي.
مګر داسي نه وسوه، هغه سبك چي خیرالبیان ئې بنسټ ایښي او بیا اخوند درویزه تعقیب کړ، که څه هم تر ډیره وخته موجود ؤ، خو ګردو خلکو هغه ناوړه لیك خوښ نه کړ بلکه نیم قرن وروسته مرحوم خوشحال خان بیرته هغه زوړ سبك ژوندی کړ یعني د سلیمان ماکو په ډول ئې د محاورې پر اساس نثر وکښ، چي بیا نورو هم د ده په تعقیب دغسي نثر څه نه څه ویاله.
مګر د خیرالبیان نیم منثور سبك پر دماغونو دوني اغېزه کړي وه چي خوشحال خان اوملګرو ئې ځان له اثره نه سواي ژغورلاي، څو چي په (۱۱۴۰هـ) مرحوم محمد هوتك خپله تذکره په داسي ډول وکښله، چي له هغو ناوړو اغېزو څخه ئې بالکل خپل لیك پاك کړ.
نو د خیرالبیان د سبك لیکونکو که له یوې خوا ژبي ته خدمت وکړ، او آثار ئې پکښي موجود کړل له بلي خوا ئې د ژبي طبیعي دنثر سبك څو سوه کاله وروسته کړ، که خوشحال خان مرحوم ژر دی نقص ته نه واي ملتفت سوی ښایي چي تر اوسه به هغه ناوړه سبك پر ژبه غالب و، او د ژبي نثر به بالکل له موره ورك و.
نود یو ژبور او لیکوال تېرواته او اجتهادي خطا ممکنه ده، چي څو پیړی پر ادب او ژبه اغېزه وکړي، او له

طبیعي سیره دي راوګرزوي.

له دې تاریخي مثاله زما مقصد دا وو چې اوسني ښاغلي لیکوال او ژبوران په خپل مهم موقف پوه سي، او دا ومني چې ددوي لیکونه آینده ګانو ته پاتیږي، او پرهغو باندي ښې یا بدې اغیزې کوي.

ځني معاصر لیکوال او ژبوران به وي چې د دوي لیك او تحریر ژبي ته ښې ګټې لري، د ژبي ادبي ناموس ورساتي، مګر داسي لیکوال به هم وي، چي د دوي لیکونه او تحریرات به د ژبي دپاره ډیر مضر وي، یعني اساسي تاوانونه به ورته لري.

مثلاً : هغه لیکوال چي دوي د ژبي د نثر لیك خاص د نورو ژبو د ترجمې تر اغېزه لاندي کوي، او د ژبي خپل خصوصي تعابیر او ښېګړي هېروي، داسي لیکوال ژبه هم ورانوی او کښته ئې بیایي.

مګر هغه ښاغلي چي پخپل لیك کښي د ژبي عنصر ته ګوري او د نورو ژبو د ترجمې اثر ئې په لیك کښي نه ښکارېږي، او هر کله د محاورې اساسي ستو ته په لیکلو کښي تقویت ورکوي داسي لیکوال ژبي ته لوړ خدمتونه کوي او دوي د ژبي د بېړۍ هغه پوهان او غښتلي اوګړندي مانوګان دي چي بېړۍ د محاورې په عمومي جریان کښي اچوي مګر هیڅکله ئې نه پرېږدي چي دا بېړۍ د خطر په ګرداب کښي ولوېږي، یا ئې هغه جریان د ضرر خواته بوزي.

داسي لیکوال ژبه پورته بیایي او لوړوي ئې، او ددوي نومونه د ادب په تاریخ کښي تل ژوندي پاتیږي . ښایي چي زموږ ښاغلي لیکوال او قلموال تل دې خواته ځیر وي، اوهر کله دوي ژبه پورته بوزي نه کښته. زه د ښاغلو لیکوالو سره خبري کوم او لکه چي ماته ځرګنده ده دا ډله ډېر حساس خلك دي او ډېر بیرېږم چي دا زما لیك پر دوي تریخ ونه لګیږي او له لیکه لاس وانه خلي.

خو زما مقصد دا نه دی چي دوي میدان پرېږدي او مایوس سي یه ... ښایي چي دوي ډیر محتاط وي او هر کله پخپلو لیکلو کښي د ژبي اصلي عنصر یعني د عمومي محاورې او تعبیر اساس ټینګ کړي، او په لیك کښي هیڅکله دپردیو ژبو د تعبیر او اداء او انشاء تقلید ونه کړي.

یوه ژبه چي د ادب مراتب طی کوي او د ادبي ارتقاء پر پوړو خېژي، باید ددې خپل عنصري خواص او مزایا ټینګ سي، او هغه د تعبیر لاري او د وینا اصول او د بیان او ځرګندولو ستې چي لري، په لیك کښي پوره وساتلي سي.

که یوه ادیب او لیکونکی دغه خواص درلوده او قلم ئی د ژبي د ادبي ناموس په ژغورنه کښي ګړندی و، نو دا ادیب او قلموال ژبه پورته کوي لوړوي ئې، اوس دي نو هر څوك خپل لیك ته ځیر سي چي د ده قلم ژبه لوړوي؟ که ئې کښته کوي ... ؟ (۱)

(۱) کابل مجله، ۱۳۲۲ کال، ٦ مه ګڼه، ۳۰ _ ۳٤ مخونه.

پای